AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست
۲۰۲۴/۰۵/۰۱

# د پوهنتون خاطرې

## (۱۳)




ټولګي کې مو پر یوه دیني موضوع بحث و. بحث همداسې تود روان و چې ور پرانیستل شو او استاد پروفیسر تقویم الحق کاکاخېل راننوت. هغه، لکه چې زموږ ځینې خبرې اوریدلې وې. چې ځنګه پر څوکۍ کیناست نو موږ ته یې راوکتل: هلکانو، تاسې خوسم مولیان یئ !
بیا یې پوښتنه وکړه:
تاسو کې چا دیني تعلیم کړی او څومره مو کړی؟ موږ ټولو ګوتې جیګې کړې او وه مو ویل چې په جوماتونو کې مو څه ناڅه کتابونه ویلي او په ښوونځیو کې مو هم د مضمون په توګه ځینې دیني کتابونه ویلي دي.
کاکاخېل صیب، وپوښتل: قدوري چا ویلې؟
موږ ټولو ګوتې جیګې کړې .
بیا یې وویل: یوه اسانه او بیخي ساده پوښتنه وکړم؟ ټولو په یوه غږ وویل: هو، استاده .
کاکاخېل صیب وپوښتل: ښه دا راته ووایئ چې قدوري چا لیکلې؟
له دې سره په ټولګي کې خاموشي خپره شوه او ټولو سرونه ښکته واچول. استاد، موسک شو: دا کتاب ویل به داسې وي؟ د هر کتاب د لیکوال نوم د هغه په پښتۍ او یا لومړۍ پاڼه کې درج شوی وي. لکه چې د کتابونو پښتۍ او لومړۍ پاڼې ته هیڅ خیال نه کوئ؟
یو محصل غږ کړ: استاده، فکر نکوم که د قدوري د مؤلف نوم د هغه ملاصیب هم زده وي چې ما ترې جومات کې قدوري ویلې .
کاکاخېل صیب ویل: هغه پریږده، خپله خبره کوه. او بیا یې موضوع پسې وغځوله :
ګورئ دا عادت جوړ کړئ چې له کتاب ویلو مخکې یې لیکوال وپیژنئ. ځینې وخت دا کار ډیر مهم وي. نو که ممکن وي، د لیکوال د ژوند زمانه وپیژنئ، د هغه فکر وپیژنئ، د ژوند په حالاتو یې ځان خبر کړئ. دا له تاسو سره د مسائلو په درک کې ممد واقع کیدای شي.
د استاد دا خبره ډیره مهمه ده. که موږ د لیکوال په اړه معلومات ونلرو؛ نو ډیر مسخه شوي اطلاعات به د حقایقو په توګه ومنو .
یوه بیلګه به یې وړاندې کړم :
یو وخت مې د مشهور شاعر استاد خلیل الله خلیلي یو کتاب (عیاری از خراسان) څه نا څه لوستی و. په دې کتاب کې یې حبیب الله سقاو، د خراسان د عیار او یا کاکه په توګه تراشلی و؛ خو همدغه سړی بیا نوموتي مؤرخ غلام محمد


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

غبار او ځینو نورو مؤرخینو غل، ډاکو او د افغانستان د شاتګ لامل ګڼلی دی. ما سره به پوښتنه وه چې د خلیلي په څیر یو اګاه او عالم سړي ولې داسې کړي؟

وروسته پوه شوم چې د خلیلي پلار میرزا محمد حسین چې د امیر حبیب الله خان په دور کې مستوفي الممالک (وزیر مالیه) و، امان الله خان د خپلې واکمنۍ په لومړیو کې اعدام کړی و او حبیب الله سقاو هغه څوک و چې د امان الله خان حکومت یې له منځه وړی و؛ نو خلیلي د خپل پلار انتقام په دې توګه اخیستی و.

خبره اوږده نشي، په لنډو کې به دې پوښتنې ته ځواب ورکړو چې د استاد خلیلي د پلار د اعدام دلایل څه ول؟

د ځینو تاریخي روایاتو په حواله، میرزا محمد حسین چې د امیر حبیب الله خان په وخت کې مستوفي الممالک و او استخباراتي چارو کې یې هم ګوتې وهلې؛ په خپل شیطنت یې ډیر خلک د امیر د توپ خولې ته ترلي ول او لومړي مشروطه غوښتونکي یې له ډیرو کړاونو او سختیو سره مخ کړي ول .

د خلیلي پلار په خپلو شیطنتونو د امیر حبیب الله خان روابط له خپلې میرمنې او خپل زوی ( شهزاده امان الله خان او د هغه مور) سره دومره خراب کړي و چې حتا یو وخت خبره تر طلاقه هم رسیدلې وه .

دغه شان کله چې په ۱۹۱۸ کال کې د کابل په شور بازار کې په امیر حبیب الله خان د تومانچې ډز وشو؛ نو د خلیلي پلار د امان الله خان او د هغه مور تورنه کړه او د امیر حبیب الله خان زړه یې له دې دواړو ښه سم بد کړ. بیا کله چې امیر حبیب الله خان د لغمان په کله ګوش کې قتل شو او شهزاده امان الله خان کابل کې خپل ځان پاچا اعلان کړ او له خپل کاکا سردار نصرالله خان څخه، چې دا وخت په جلال اباد کې و، بیعت وغوښت؛ نو مستوفي الممالک هغه له بیعته منع کړ او په کابل یې لښکر کشیو ته وهڅاوه. هغه ته خپلې ماضي اشارې کولې چې که امان الله خان واک ونیسي، نو د ده خیر نشته. خو په دې هڅوٌنه کې ناکام شو. ونیول شو، بندي شو او بیا را ځوړند کړای شو .

داسې نورې ډیرې بیلګې هم شته چې د لیکوال شناخت ضرور ثابتوي. وګورئ، که موږ د خلقي او پرچمي لیکوالانو لیکنې د ( ثور د پرتمین انقلاب) په اړه ولولو، نو یو څه راته وایي او که د دوی د مخالفې ډلې لیکوالانو لخوا د (ثور خونړۍ کودتاه) په اړه لیکنې ولولو؛ نو بل څه راته وایي. شاید هغه نسل ته چې د خونړۍ کودتاه وحشتونه یې په سترګو ولیدل او تجربه یې کړل، د دې په تایید لیکنې بې تاثیره وي؛ خو وروستي نسلونه یې که لیکوالان ونه پیژني نو بل ډول فکر به کوي. دغه شان که د کودتاچیانو د مخالفو تنظیمونو په اړه د همدې ډلې د لیکوالانو اثار لولو؛ نو مشران به یې ټول قهرمانان او خیر خواهان وي؛ خو د دوی قهرماني د کابل ښار او د دې ښار بې دفاع ښاریانو ته ښه معلومه ده چې څه یې ورسره وکړل. د وطن افتخارات یې څومره ارزانه لیلام کړل او ...

دغسې نورې ګڼې بیلګې در واخلئ .

په هرصورت، د کاکاخېل صیب خبره پوره په ځای ده چې له کتاب لوستلو مخکې باید د هغه لیکوال ښه سم وپیژندل شي او بیا یې په لیکلي متن حساب وشي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ